شریعت

فوق العا ده گڼه — اونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریک نشراتی ارگان

لومړی کال | شپږ دیرشمه گڼه | جمعه د ۱۳۷۵ هـ ش کال دسنبله دمیاشتي (۲۳) | د۱۹۹٦میلادي کال سپتمبر (۱۳) | د۱٤۱۷ هـ ق کال ربیع الثاني (۳۰)

دمحمد ﷺ محبت دایمان شرط دی

حضرت انس رضي الله عنه وایي: دالله رسول ﷺ فرمایلي دي :« هیڅوک دتاسي (کامل) مؤمن نشي کیدلی ،څو زه دده ته له خپل پلاره ، له خپل زویه اوله ټولو خلکو څخه محبوب (گران) شوي نه یم.

ژباړه - (المشکوة - کتاب الأیمان)

له فتح نه وروسته د الله تسبیح اوستاینه کوی

« کله چي دخداي « جل جلاله » مرسته راشي ، اوخلك وینې چي ډلي ډلي دالله « جل جلاله » په دین کي داخلیږي . نو دخپل رب پاکي وایه له ستاینې سره اوله هغه جل جلاله څخه بښنه غواړي بي شکه چي هغه « جل جلاله » ښه توبه قبلونکي دي.

ژباړه (دنصر سورت)

قدوم کاروان پرنور تنفیذ شریعت الهی «جل جلاله» به ننگرهار همیشه بهار مبارک باد

دجلال آباد دبشپړی فتحي اوهلته دشرعي نظام دحاکمیت په اړه

دطالبانو داسلامي تحریك دامیر المؤمنین ملا محمد عمر «مجاهد» پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

دافغانستان مسلمان مجاهد ولس !

اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته:

په زیات افغانستان کی چی امنیت راغلی اوشرعی نظام پکی نافذ دی مبارك دی وي.

مونږ دخدای «جل جلاله » عاجز بندگان یو فتح اوبری دلوی خدای «جل جلاله » په کومك او اراده پوری اړه لری توپخوانی او اوسنی فتوحات چی داسلامی تحریك دمجاهدینو په برخه شوي وو دخدای فضل اونعمت دی . مونږ یې شکر ادا کوو .

ځکه دلوی خدای «جل جلاله » د حمد اوثنا (شکر او ستاینې) ځای دی چی په زیات افغانستان کی شرعی نظام حاکم دي.

تاسو ته توصیه کوم : چی دځمکو اوولایتونو په نیولو مه غره کیږي.

له خدای «جل جلاله » څخه توفیق وغواړی چی شرعی نظام نافذ کړي

ځکه دځمکو لاندی کول مونږ دقدرت زیاتولو په منظور نه کوو تاسوټولو مسئولینو، داسلامی تحریك مجاهدینو، ومسلمان ولس پام دغه ټکی ته راگرځوم: چی عاجزی ، متانت ، مقاومت ، ثبات اواسلامی کړه وړه دحان خاصه وگرځوی اوکار ځنی واخلی .

والسلام

داسلامي تحریک اتل سپه سالار ملابورجان اخند وویل:

دطالبانو ځواکونه دننگرهار دخلکو په غوښتنه جلال آباد ته راغلل

مونږ تاسو ته له خدمت کولو پرته بله اراده نه لرو اوغواړو چي دلته شریعت نافذ کړو

وروسته له دي به ستاسو سر، مال ،عزت اوناموس له هر ډول گواښ څخه خوندي وي

داتل قوماندان ملا بورجان اخند په مشري دطالبانو داسلامي تحریك زورور ځواکونه په داسی حال کي جلال آباد ته ننوتل چي دجلال آباد ښاریانو وریاندي گلونه پاش او دالله اکبر په نارو یې بدرگه کول. زموږ خبریال دننگرهار ولایت له جلال آباد څخه خبر راکوي چي د چهارشنبي دورځي په دریو بجو چي دسنبلي پوروشتمه نیټه وه دقوماندان ملا بورجان اخند په مشري دطالبانو ځواکونه پرته له کوم مقاومت څخه جلال آباد ته ننوتل ، دوي لومړي دجلال اباد هوایی ډگر چی پنځه

پاتی په (٤) مخ

مناطق وولسوالیهای متعدد ولایت لغمان تصفیه گردید

به اساس راپور مخابروي مرکز که به ساعت ۱۲ بجه شب مواصلت کرده حاکي است که : نیروهاي قهرمان تحریك اسلامي در عملیات تصفوي مورخه ۱۳۷۵/٦/۲۲ ، ساحات بهسود ودرونته ولایت ننگرهار را بکلي از نیروهاي شروفساد پاکسازي گردند.

خبر مي افزاید که نیروهاي تحریك اسلامي طالبان غرض تصفیه ورفع فساد ومنکرات وخاصتاً دور کردن پاتکها وموانع که در مسیر شاهراه جلال آباد کابل جهت چور وچپاول اموال مردم بیدفاع ایجاد گردیده بو بصوب سرخکان حرکت کردند وپاتك بدنا تاریخ را که بنام پاتك سرخکان یاد میشد ومربوط افراد حزب اسلامي بود از میان برداشته داخل محدوده ولایت لغمان شدند ودر ولایت متذکره مناطق وولسوالیهاي متعددي را از اباديِ مجرمین نجات داده تصفیه نمودند وقطعات نیروهاي مسلح تحریك غرض تصفیه سایر مناطق ولایت لغمان مصروف عمل میباشند.

به اساس یك خبر دیگر قطعات مسلح تحریك اسلامي غرض انجام ماموریت وظیفوي خویش به طرف ولایت کنرها سوق گردیده ودر حال پیشروي به آن طرف

مخ

طالبانو د لغمان ولایت په بشپړه توگه تصفیه کړو

د تنگی ابریشم زیاتی سیمی یی تر خپل واک لاندی راوستی دی

گرانو لوستونکو! دا راپور مونږ ته په داسی حال کی راورسید چه اخبار تر چاپ لاندی وو. ددی خبر د اهمیت په نظر کی نیولو سره مو په مختصر توگه نشرته وسپاره.
اداره.

دسروبی په لور مخ په وړاندی روان دی

د مرکزي مخابري د راکړ شوي راپور په اساس چه نن د جمعی ورځ۲۳ /سنبله/ ۱۳۷۵

(٤) مخ

د بري راز

(ب - قیام)

د تحریك په ښاد تاموکی
د طالب زلمی اواز دی
وطنوالو ځان خبر کړی
دخپلواك ژوندون آغاز دی
د بري پرهسك به ځلم
دسوچه پرتم عسکریم
دتحریك په مرسته ویاړم
همدغه د بري راز دي

دایمان په زور

(حنیفي)

ځي په بره بره طالبان دخپل ایمان په زور
نن سباکه خداي کړل پورته خیژي دپغمان په لور

* * *

راشي هیوادوالو چي بوسه یې قدمونه کړو
درومي ځي روان دي دلوټ شوي کابل جان په لور

۱۳۷۵/٦/۲۲ هـ ش

محترم انجنیر صاحب عبدالله گل «ریان» دقندهار دپوهنتون د رئیس په توگه وټاکل شو

دقندهار دولایت څخه زموږ خبریال دیو ریوټ په ترځ کي خبر راکوي چي محترم انجنیر صاحب عبدالله گل «ریان» دقندهار دپوهنتون دنوي رئیس په توگه وټاکل شو.

خبریال زیاتوي تیرې دتیرې چهارشنبی په ورځ چي دسنبلي دمیاشتي و۲۱ نیټي سره سمون خوري ، پخپل کار پیل وکړ.

ریوټ وائي : دعالي تحصیلاتو درئیس محترم مولوي حبیدالله نعماني دهغي غونډي په ترځ کي برخوالو ته معرفي کړ چي دقندهار دپوهنتون په انگړ کي جوړه شوي وه او دپوهنتون

(٤) مخ

کارمرمر کاري مسجد تاریخي هرات آغاز کردید

خبر نگار ما از ولایت هرات خبر میدهد که سنگ مرمر کاري مسجد تاریخي هرات از طرف رئیس تنظیمه محترم ملا برادر اخند ووالي هرات محترم ملا یارمحمد اخند گذاشته شد.

درین مراسم جمع عقیري شهریان هرات شرکت داشت واز مرمر کاري مسجد جامع هرات خوشي نموده واظهار امیدواري نموده تادر عمران وطن عزیز کامیابی هاي عظیمي نصیب ملت غم دیده ماشود.

خبر نگارمي افزاید: چندي قبل درباره مرمر کاري مسجد جامع تاریخي هرات فیصله به عمل آمده بود که بتاریخ بیست سنبله کار آن آغاز گردید.

دپکتیکا دوالی مولوی عبدالباقی حقانی اخباری بیان

دننگرهار ولایت فتحه په ټول افغانستان کی داسلامی نظام دقیام په لور غټ مثبت قدم دی دننگرهار مجاهد ولس د ډیر وخت نه له دی اداری تنگ اود طالبانو راتلوته په انتظار وو.

دننگرهار مجاهد ولس

(٤) مخ

په ننگرهار کي دطالبانو داسلامي تحریك بری

ننگرهار ته دطالبانو راتلل (۲)مخ

دحضرت مولانا حافظ شوکت علي صاحب (۳)مخ

د ادب ملغلری (۳)مخ

دشری ټولنو [illegible] (۳)مخ

بیائید از خاینین بریده به صادقین (۳)مخ

دمبارکی پیغامونه

سرمقاله

ننگرهار دکابل اداری د پاره دعبرت ښه درس دی

دافغانستان دنورو برخو په شان دننگرهار خلکو هم دروسانو اوکمونستانو په خلاف په مقدس جهاد کی ستری قربانی او سرښندنی دالله «جل جلاله» په لارکی داسلامی شریعت، اسلامی عدالت اواسلامی اخوت دخوږو اوسپیڅلو ارمانونو دترسره کیدو دپاره ورکړی دي؛ دجهاد په اوږدو کی یې په جهادی مشرانو جهادی قوماندانانو پروسه اواعتماد کړی و چی دوی به دشهیدانو پښمانو کونډو روزنه اوپالنه دخپلو رامنو، لوړو اوخویندو په شانی کوي.

ددوی مالونه او جایدادونه به له هر جابر او ظالم څخه ساتی عزت اوناموس به یې خوندی کوی ، اوپه دی ټولو برسیره گران افغانستان به په نظریاتی اومادی لحاظ دنړی د پرمختللو هیوادونو په لیکوکی دروي، فقر ،غربت، جهالت اوبسانی به له دغه هیواد څخه لری کوی اوپه ځای به یې خوشحالی، ښبرازي، علم ، ترقی اواسلامی وروړلی راسیځ ته کوي څو په نتیجه کی یو سمسور ، پرمختللی ، نیکمرغه اسلامی افغانستان دشهیدانو روحونه ښاد اودمسلمان مجاهد ملت زړونه خوشحاله اوسترگی یې روښانه کړي.

پاتی په (۲) مخ

د ننگرهار مؤمنو خلکو ! دشریعت نفاذ، دسولی او امنیت بری او داستکبار ماتی مو مبارك شه

دطالبانو اسلامي تحریك به ستاسو دزړه له اخلاصه ملاتړ او اسلامي جذبه هیڅکله هم هیره نکړی

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترکتنی لاندي
مسئول مدیر : مولوی احمد جان
تیلیفون : ۸٤۰۲۷۸
آدرس : په پیښور کي دطالبانو داسلامي تحریك نمائندگي
دیوي گڼي بیه : په هیواد کي (۵۰۰) افغانۍ
: په پاکستان کی (۳) کلداری

سرمقاله ...

خوله بده مرغه دروسانو اوکمونستانو له ماتی اوشکست نه وروسته داسي ونشول ، ددغه مسلمان او مجاهد ملت هیلی په ناهیلو بدلی شوي، یو شمیر فاسدوعناصرو دجهاد په دوران کی او دکمونستانو له ماتی نه وروسته دقدرت په چوکی کی دخلکو له اخلاص ، جهادي شهرت اوجهادي امکاناتو ځخه غلطه استفاده وکړه نه یی دشهیدانو دیتیمانو اوښکی ورپاکی کړې، اونه یی دهغوی کونډو دلاساکړی اونه یی ددوی سالونو اوجایدادونوته په درنه سترګه وکتل نه یې دمسلمان اومجاهد ملت دپاکو هیلو او ارزوگانو احترام وکړ اونه یې دهغو سره په کړو ژمنو او وعدو باندي وفا وکړه ، او بالاخره ته بی دالله ج خدای «جل جلاله» دمرستی اونصرت ستاینه وکړه اونه یې دجهادي سوبو ، منوحاتو په نتیجه کی دالله «ج» په دربارکی بوه گړی وژړل اونه یې دهغه تسبیح اوتهلیل وکې. بلکی ددی ټولو برعکس دشهیدانو په ارمانونو باندي ملنډی ووهلی شوي، دملت ارزوگانی تر پښو لاندی شوی ، مالونه ، سرونه ، اوعزتونه یې لوټ شول. دوی هریو ځانگړی پاچا اومطلق العنان واکدار شو. دخلکو ځانن یې غلامان اوجایدادونه یې دځان کړل ، متحد افغانستان یې دخپلو منحوسو ارزوگانو قربان کړ ملي وحدت یې دړی وړی کړ، په زرگونو اولکونو تنکی ځلمیان یې دجگړو په اورونو کی لوگی او ایری کړل.

خوالهي قانون دی ،په هرمشکل پسی آسانی اوپه پربیکاه پسی سهار راځي ، ددغه مسلمان اومجاهد ملت سهاون یې دطالبانو داسلامي تحریك په نوراني خوځښت کی نغښتلی و، دامتحان دغه قرعه یې ددغه تحریك په نوم راوایستله، دشهیدانو دارمانونو ، دجهاد اهدافو ، داسلامی شریعت دتطبیق او دوران اوویجاړ هیواد دابادولو اوسترورولو ستر مسئولیتونه یې ددغه تحریك په اوږو ورواچول . دلوی خدای «جل جلاله» په فضل سره تر اوسه پوری یې دتژدی دوه په دریو برخو افغانستان دمسلمانو مجاهدینو دغه مقدس ارمانونه تر سره کړی دی چیرته چی دغه اسلامي تحریك ته لبیك ویل شوي دي، دکوم ځای خلکو چی له دوی سره همکاری اومرسته کړی ده ، هلته امن ، سوله ، خوشحالی ، نیکمرغی اوداسلامی شریعت دتطبیق دستر نعمت ځلانده پلوشی خپری شوی دی ، دخلکو سر، مال ،ناموس اوعزت خوندی شوي، اودهغو سیمو وراني ویجاړي دابادي اورغېدو په حالت کی دی ، اوخلکو ته له هرظالم اومتجاوز ځخه نجات ورکړ شوی دي.

دهیواد له دغو نیکمرغه اوباسعادته سیمو ځخه یو هم دننګرهار ولایت دی چی صالحو اونیکو اشخاصو یې دطالبانو اسلامي تحریك ته ښه راغلاست وویل ، اوددغه ولایت په بی وزله خلکو باندي یې زړه سوی وکړ، دهغو د دردونو د دوادپاره یې دطالبانو داسلامي تحریك ځخه داسلامي عدالت ، اسلامي شریعت اواسلامي اخوت سپېڅلی درمل وغوښتل اوددغه سپېڅلي خوځښت په حمایت کی یې بیرغونه پورته کړل، ځانونو اوملت ته یې عزت اوخوشحالي وروبه برخه کړه .

اوبو شمیر فاسدوعناصرو یې مخالفت وکړ چی ځانونه یې هم دملت اوهم دخدای «جل جلاله» په وړاندی ذلیله کړل.

اوس دکابل داداري دترکیب نیکو عناصروته پکار ده چی دننګرهار ولایت له خلکو، نیکو قوماندانانو، مخلصو اوپه ملت باندي دزړه سوځوونکو اشخاصو ځخه عبرت واخلی ددوی په پلونو باندي پلونه کیږدی دفاسدو عناصرو ملګرتیا پریږدی او دطالبانو له اسلامي تحریك سره مرسته وکړي، له یوی خوا به یې خپل ځانونه په عزت کی کړی وی اوله بلی خوا به یې دغه ملت له نوری بدبختی اوبی عزتی ځخه ژغورلی وي، چی په دی توګه به هم ځان او هم اسلام اوافغانستان ته نجات ورکړی ، او که نه نو برخلیك به یې دننګرهار د ولایت دفاسدو عناصروله برخلیك ځخه بدل نه وي.

د شریعت تبصره

طالبان دتوپك په زور حکومت کولو باندی عقیده نه لري

زموږ مسلمان اومجاهد هیوادوال په هیواد کی دځو تیرو شپو ورځو دیو لړ جریاناتو شاهد دی ، دغه جریانات او تحولات هسی وړه خبره نه وه اونه باید په سرسري نظر ورته وکتل شی داځکه هر حرکت اوهر تحول مثبت اومنفی اړخونه لري، که چیري دکوم حرکت اوخوځښت منفي پله درنه وی اومثبته خوابي قناعت بخښونکی نه وي، نو پرتولنه باندی یې منفی اغیزلوبیږی اودخلکو په زړونو کی دهغه په باب کرکه او انزجار پیدا کیږي. خو که ددی پرعکس دمثبت لوری پله یې درنه وي، بیا نو نه یوازی دهغی تولنی دتائید وړ گرزی بلکی دهغه دبریالیتوب لپاره ملا تړی اودبری تر پړاوه پوری ورسره دریږی .په خواره اوګران هیواد افغانستان کی دظلم اوفساد دله منځه وړلو لپاره چی دملت له منځ ځخه دطالبانو اسلامي تحریك راپورته شو، نو مسلمان ملت ځکه ملا ورسره وتړله چی دمثبت لوری پله یې درنه وه او ځوریدلی ملت دخپل نجات لار ددغه تحریك په بریالیتوب کی لیدله ، نو په ډیره لږه موده کی یې له نیمایي افغانستان ځخه زیاته سیمه له ظلم اوفساد ځخه پاکه کړه، پاتك سالاری یې له منځه یووړه او هیوادوالو ته یې دهوسا اوواد من ژوند امکانات برابر کړل چی ددغو بریالیتوبونو په ترلاسه کولو کی دطالبانو

اسلامي تحریك دخپل مسلمان اومجاهد ملت مثبت رول هیڅکله له شی هیرولای .

په لویه پکتیا کی چی دهغی سیمی دمسلمانو او دیندارو خلکو په بی دریغه همکاری دطالبانو اسلامي تحریك کوم بریالیتوبونه ترلاسه کړل داهم دمسلمان ملت دهغی بی ساری همکاری اوملاتړ بوه بیلګه وه چی ټریوالو په خپلو سترګو ولیدله . په لویه پکتیا کی تر بریالیو عملیاتو وروسته دطالبانو داسلامي تحریك زیږرو ځواکونو غوښتل، چی دسروبی له لاری دکابل انتلافي اداره ترخپلو ګوزارونو لاندی راولي، خو دننګرهار مسلمانو اودیندارو خلکو خپله پخوانی غوښتنه بیا بیا تکرارکړه اودطالبانو ځواکونو ته یې بلنه ورکړه چی دننګرهار مرکز جلال آباد ته ورشي اوهلته چی کوم اداري فساد موجود دی دهغې سیمی دمسلمانو خلکو په مرسته له منځه یوسي.

دطالبانو اسلامي تحریك چی اصلاً دهیوادوالو دنجات لپاره راپور ته شوی هیڅکله یی نه دی غوښتي اوهیڅکله به ونه غواړی چی حتی دخپلو پروگرامونو دعملی کولو په بهیر کی دیوه افغان وینه هم توبه شي، نو دهمدغه مقدس هدف په رڼا کی هرچیري چی تللی دی دهغي سیمی دخلکو په

غوښتنه تللی دی او دهغوی په غوښتنه یی دظلم اوفساد لمنه ورټوله کړی ده ، همداشان وروسته له دی هم چی دکومو پروگرامونو دتطبیق لپاره عمل کوی دخپلو مسلمانو او دیندارو خلکو له غوښتني سره سم به عمل کوی او په دی توګه به دهر ډول نظامی عمل مخه نیسي.

دطالبانو اسلامي تحریك دتوپك په زور پرخلکو باندی دواکمنی په چلولو باندی عقیده نه لري، دغه اسلامي تحریك زیار باسی دخلکو په زړونو کی ځای پیدا کړی او په دی توګه دخپلو خلکو دېښو ارمانونو دپوره کولو په لارکی داسی اسلامي عمل خپل کړی چی نه سیخ سوی وی اونه کباب، که ځه هم شایي ددغه ژغورنده اسلامي بهیر دپرمختګ په لارکی یو شمیر په شخصی ګټو باندی مین اشخاص ځتیونه پیداکړی اویا به یې پیدا کړی وي، خو دغه ژغورنده اسلامي بهیر دلوی اومهربان خدای «ج» په مرسته اود خپلو مسلمانو اودیندارو خلکو په بشپړه ملاتړ مخ په وړاندی روان دي.

دطالبانو اسلامي تحریك په ننګرهارکی دخدای «ج» دقانون دحاکمیت په ټینګښت کی دهغه ولایت دمسلمانو اودیندارو خلکو مرستی او همکاری ته هیروی ، ددی سیمی دمجاهدو اوسیدونکو دځوارلس کلن جهاد داتلو لیو له په پام کی نیولو سره به دهمدوی په خوښه خپل اسلامي اوملي پروګرامونه عملی کوی اودخپلو پروګرامونو په لاربریالیتوب کی به ددوی رغنده مشوری له پامه نه غورزوي.

په ننګرهار کی دطالبانو داسلامي تحریك بری

هغه وخت چی دافغانستان مؤمن اوکفر ماتوونکی ملت په روسی برغلګرو بری حاصل کړ افغانستان اوجهان ته یی دکمونیزم له بلا ځخه نجات ورکړ، په خپل هیواد کی یې داسلامي نظام لپاره لاره اواره کړه خلك دی ته سترګی په لاره وو چی اوس به دشهیدانو ارمانونه پوره کیږي او د ولس له خوښی سره سم به یو اسلامي اوملي نظام دچارو واګی په لاس کی نیسي.

ولی له بده مرغه دا هر ځه دځینو خودغرضه اوپه ځان مینو افرادو اوډلو دشخصي غوښتنو اواقتدار ته درسیدو او داقتدار ساتلو په شوق کی په سیند لاهو سول، دجهاد دمقدس ارمان اودافغانستان دمسلمان او مجاهد ملت دهیلو په خلاف په هیواد کی داسی نظام حاکم شو چی اسلامي نظام اوحکومت خولاځه کوی چی دافغانستان ملی وحدت اوپوالی یې له جدي خطر سره مخامخ کړ.

که موږ د رباني دحکومت او دهغه سره داړونده په اصطلاح شوراګانو ځلور کلنو اعمالو ته وګورو په یو ګغلنده نظر به جوته شی چی دوی عملاً په اداری لحاظ افغانستان تجزیه کړی دی د ... په دی راضی وه چی هیواد په اداری ... د دمختلفو ګروپونو له خوا اداره شی ترځو دمرکزي حکومت او اداری وحدت دنشتوالی په صورت کی ددوی لپاره دافغانستان دملی شتمنیو دلوټ اوتالان زمینه برابره وي، او دوی وکولای شی بی له دی چی ځوك تری پوښتنه وکړي افغانستان لوټ کړي.

د رباني دحکومت داداري دبوجز په توګه دننګرهار شوری چی ظاهراً بی طرفه وه ولی عملاً یې ځینو مفاد پرسته عناصرو دکابل د اداری داستحکام لپاره کار کاوه په دی ځلورو کلونو کی یې ددوه مخی سیاست

ولوباوه، دننګرهار شورا یواځینی شورا وه چی ځینو اشخاصو دشورا په نامه دننګرهار ملی شتمنی لوټ کړه ، دغو عناصرو په ننګرهار کی دقدرت دنیولو سره سم دسیکی اودرندی وسلی دخرڅلاو لپاره په رسمی ډول یو هیئت وټاکه ، دی هیئت وسله خرڅه کړه اوپیسی یې په شریکه په خپلو کی سره وویشلي. په ننګرهار شوری باندی حاکمو عناصرو دکمونستانو دحکومت پرقدم ، قدم کیښود دهغو افغانی مهاجرو چی په بهر کی اوسیدل ملکیتونه یې دکمونستانو په شان په خپله قبضه کی وساتل، ددی ملکیتونو شخصی قبالی یې جوړی کړی اودځان په نوم یې کړل، همدارنګه ددی شورا غړیو په ننګرهارکی دولتی ودانی اوملکیتونه په خپلو کی وویشل او داسی فکر یې وکړ چی ګوندی دافغانستان دمؤمن ملت دحق دغوښتلو په ځواك نه وي. دننګرهار دشوری په نوم په ځه دپاسه ځلور کلنه دوره کی داسی اعمال ترسره شول چی قلم یې په لیکلو شرمیږي ، دخلکو په سر ، مال اوناموس تیری وشول اوله دی ویږی ډیر خلك فرار ته مجبور شول.

دننګرهار دشوری دمفسدو عناصرو تر ټولو لوی ملی خیانت دننګرهار له دولتی ګمرك ځخه د ننګرهار دشوری اوپه ځانګړی ډول دحاجی قدیر او انجنیر غفار شخصی استفاده دبختني وړ نه ده. په داسی حال کی چی د ننګرهار ګمرګ په ملیار دونوافغانی عاید لاره د ننګرهار دولایت مامورینو اوپه

ځانګړی ډول دښوونکو غریب قشر په میاشتو میاشتو بي معاش شپی تیرولی د ننګرهار دګمرك عایدات داحصایي له مخی ددی لپاره کافی وو چی دمشرقي په دري واړو ولایاتو کی دري ولایاتو د عادي اوانکشافي کارونو لپاره بودجه برابره کړي وای ، ددی ګمرك عایدات دومره زیات وو چی حتی کیدای شول دمرکزي حکومت مشکلات هم وررفع کړي، ولی دګمرك عایدات دننګرهار دشورای د خاصو غړو اودګمرك دیو شمیر مامورینو له خوا حیف او میل کیدل دوی پری ځمکی اخیستی ، تجارتي شرکتونه یې پری جوړول اودخلکو ځخه په زور غصب شو کورونو کی یې دزړه جنتونه ابادول.

دافغانستان دمؤمن ملت او دننګرهار دمؤمنو خلکو په وړاندی داهر ځه دلمر په شان ښکاره دی وایي که شپه تیاره ده نو منی په شمارډی خلك پوښتنه کوی چی دی جنابانو داهر ځه له کومه کړل دا ددی شهید پالوونکی ملت مال و او که ددی ځو تنو غاصبانو ! خلك دیو سوال ځواب غواړی که دکابل داداري او ددوی دانهیوالانو اعمال په مفصل ډول ځیړو کتابونه پری لیکل کیږي دلته خبره په دی کی ده چی د طالبانو اسلامي تحریك ولي دننګرهار ولایت له مفسدینو او دروغ ویونکو ځخه خلاص کړ لکه ځنګه چی هیوادوال خبر دی له هغه وخته چی دطالبانو اسلامي تحریك دهیواد اکثره سیمی له فساد ځخه خلاصي کړي اوخلکو هلته هوسا ژوند

پیل کړ، سر ، مال اوناموس یې خوندی شول نو دننګرهار خلك هم ددغه رنګه اسلامی شریعت او امنیت غوښتونکی ؤ، په مکرر ډول نی دننګرهار دمؤمن ولس له خوا دطالبانو اسلامي تحریك ته په وار وار مراجعی وشوی اوله دوی ځخه وغوښتل شول چی دننګرهار دسیمی دنجات لپاره اقدام وکړی داغوښتني اوهیلی دومره زیاتی شوی چی دطالبانو اسلامي تحریك بی دی ته اړ کړ چی د ننګرهار دنجات لپاره دسوله ییزی لاری اقدامات وکړي ، په دی خاطر یې ځو ځو ځله د ننګرهار دشوری له غړو او اوپه خاص ډول ددی شورا له مسئول حاجی قدیر سره کتنی وکړی او دننګرهار دخلکو پیغام یې ورسساوه ، او دوی یې داسلامی شریعت اواسلامي نظام په منزاباو وپوهول، ولی له بده مرغه دننګرهار دشوری ځینو غړو او په ځانګړی ډول حاجی قدیر ددوه مخی سیاست په اختیارولو سره د طالبانو استازو ته په ظاهر کی د همکاری وعدی ورکولی، خو په پټه یې دکابل د اداري سره اړیکی مکملی وی او د ننګرهارد مؤمن ولس د اراوی په خلاف یې دکابل د اداري داستحکام لپاره کار کاوه . پیښو وښودله چی حاجی قدیر دخپلو شخصي ګټو نوکر ؤ.

دهیواد په جنوب ختیزو سیمو کی دطالبانو داسلامي تحریك بریو د ننګرهار د خلکو هیلی نوری هم تاندی کړی اودطالبانو په اسلامي تحریك یې فشار راوړ چی ددوی

سیمی ته راشی ترځو ددغی سیمی خلك هم دشریعت په رڼا کی ژوند وکړي . د طالبانو داسلامي تحریك مدبر اوپاتور قوماندان ملا بورجان پنځه ورځی دمخه د ننګرهار دشوري له مسئولو غړو سره د ننګرهار دخلکو غوښتنی مطرح کړی او دوی ته یې په خبرو کی وویل چی تاسو باید په ننګرهار کی امنیت ټینګ کړي، شریعت نافذ کړي اودطالبانو اسلامي تحریك ته لاره خوشی کړی چی دکابل د اداري وروستی سنګر سروبی ونیسي ولی د ننګرهار شوری یې له دی چی دخلکو ګټی په نظر کي ونیسي شخصی ګټو ته یې پراسلامی او ملی ګټو ترجیح ورکړه او دطالبانو داسلامي تحریك استازو ته یې درد ځواب ورکړ. دطالبانو داسلامي تحریك استازو بیا هم دوی ته موقع ورکړه چی په خپل دریځ نوی کتنه وکړي ولی د ننګرهار شوري دکابل د اداري سره دپخوانیو اړیکو او تړونونو په اساس دطالبانو داسلامي تحریك دخلکو په مصلحت اوملی ګټو ولاړه غوښتنه ونه منله، همداؤ چی دطالبانو داسلامي تحریك مجاهدینو دسیمی دخلکو په مرسته دننګرهار ولایت له مفسدینو ځخه پاك کړ اوتردی وروسته به د ننګرهار خلك داسلامي شریعت په رڼا کی دسولی اوارامی ژوند تیروی اودځوارلس کلن مقدس جهاد ارمانونو په پوره کولو به خپلی سترګی روښانه او زړونه خوشحاله کړي .

انشاء الله

ننګرهار ته دطالبانو راتلل

دهیواد دځمکنی بشپړتیا اوسرتاسری سولی په لور یوبل ګام

شاجهان (کټري)

دا دي داسلامي تحریك اتل بچیان دهیواد په ختیځو برخو کی خپل پرمختګ ته دوام ورکوي ، او هره لحظه زموږ په خدای مین هیواد وال دخوښی اوتبکسرغی نوی اوتازه زیری اوری .

دتیری سه شبی په ورځ چی دسنبلی ۲۰ نیټه وه ، دطالبانو داسلامي غورځنګ مشرتابه دهیواد دمشرقي ولایاتو دمجاهد ولس بار بار غوښتنو ته لبیك وواېه اویدی اړه ئی دعمل دګټ ته راودانګل. کله چی دطالبانو اسلامي ځواکونه دننګرهار دحصارك دولسوالي دخلکو په غوښتنه دغی ولسوالي ته ورننوتل ، نو ددغی ولسوالي په مربوطاتو کی دولس له تاوده هرکلی سره مخامخ شول، هر

چاپه خپل کور داسلامي تحریك سپینه جنده ودروله ، دتکبیرونو ناری سوری جوړی شوی ، اود ډېرو ځخه نیولی تر زړو پوری ټول ولس طالبانو ته په پوره جوش ښه راغلاست وواېه.

هغه شریر افراد چی غوښتل ئی ننګرهار ته دطالبانو دراتګ مزاحمت وکړي، زموږ دولس د جذباتو په لیدو وارخطا شول اوله دی پرته چی دتبیتی لار خیله کړی بله چاره ئی ونه موندله.

حصارك ته دطالبانو راتلل ددی سبب شول چی دننګرهار په ټولو مربوطاتو کی ولس دانارشیزم په مقابل کی قیام وکړي ، هر چیرته داسلامي تحریك په پله ناری پورته شوی او هر ځوك پخپلو ځایونو کی داسلامي

تحریك دمجاهدینو راتلو ته سترګی په لاره ...

دطالبانو داسلامي تحریك دی دستاینی وړ عمل ته یوازی داچی زموږ دمشرقي ولایتونو دولس امیدونه او ارزوګانی ئی پوره کړی بلکی هغه په ټول هیواد کی دسراسري سولی او ځمکنی بشپړتیا په لوریو مبارك قدم دی.

لکه ځرنګه چی زموږ هیوادوال ښه خبر دی چی ننګرهار په افغانستان کی یوځانګړی شکل اختیار کړی و اوديوخپلواکې اومستقل دولت بڼه ئی غوره کړی وه ، ددغه ولایت

حاکمانو به ځانونه دسولی مدعیان ښودل ، اوننګرهار به یې دسولی کور معرفی کاوه اوویل به ئی چی هلته دخلکو سرونه اومالونه خوندی دي، هلته امن اواستقرار دي، هلته دملی روغی جوړی ځځ اوکوښښونه کیږي، هغه د هیواد دځوریدلو اوشړل شوو وطنوالو کور دي، هلته دکابل مهاجرین مشته دی او...

اوبه دی خبرو به ئی دخلکو ذهنیتونه ځانته راګرځول او ملی اوبین المللی ملاتړ به ئی حاصلوه، داخبری هم تریو حده رښتیا دي، او موږ لدی ځخه انکار نه کوو چی داسی یوځه به هلته وه، خوحقیقت دخبری دادی چی دا هر ځه دیو څو کسو دځانګړو ښیګڼو لپاره وه ، هلته امن وه خو هغه دصاحبانو لپاره وه اوله هغوی پرته نور ټول خلك مجبوره وه چی خپل ځانونه وساتی که صاحبان ورځخه دځه شی غوښتنه وکړي بایدو نه مکره، ونه وائی اګر که هغه ددوی عزت ته هم خطر ورپیښوي.

هلته مهاجرین میشته وو اوځای ورکړی شوی وه ، مګر هغه ددی لپاره وه چی دصاحبانو لپاره دکورونو شرایط برابر کړي اودهغوی په سر ډیر مادی امکانات لاسته راوړي. دمهاجرینو کیمپونه دصاحبانو لپاره دتجارت په زړه پوری شرکتونه وه او هغوی به تری لکه دسوداګری ددوکانو په توګه کار اخیستلو په ننګرهار کی به کله کله دسولی په نوم غونډی کیدی ، منافقان فاسقان ، کمونستان اومسلمان دوله عناصرو له کوم اخلاقی اواسلامی امتیازونه پرته په دغه غولونکو غونډو ته رابلل کیدل ترڅو ننګرهار پری خلکو ته دوکی ورکړی اوچی په دی توګه خپلو جنایتونو ته دوام ورکړی اوپه بی شرمی به دننګرهار دپاچاهانو شعار وه چی دوی سوله غواړی اوننګرهار د سولی کور دي.

خو حقیقت دادی چی دهغوی مقاصد اواهداف به لدی غونډو نورځه وه، هغوی به غوښتل چی پخپل دی عمل نه دمنافقانو مرستی له لاسه ورکړی ، نه دفاسقانو تائید ضایع کړی اونه هم ځانونه دکمونستانو له پامه وغور زوی اودمسلمانی ځخه هم بهر نشي، او همدا علتونه وه چی دننګرهار شاهانو به دهر چا ځخه یو ځه ترلاسه کول اوپه هغی به دصاحبانو لپاره نوی کارخانی ، نوی بلډینګونه ، نوی مارکیټونه اوحتی په خارج کی نوی بانکونه جوړیدل.

ننګرهار شاهانو به ددی قاعدی په رڼا کی چی « اوبه خړی کړه ، ماهیان ونیسه » او باه اختلاف واچوه اوحکومت وکړه » داسی سیاست غوره کړی وه چی دلویو لویو قومونو

ترمنځ به ئی شخړی تازه کړي، جګړی به ئی جوړی کړی اوددوی په وسلو اوامکاناتو به دجنګ د دواړو لوریو ځخه په لسګونو اوسلګونو خلك له منځه ولاړل، بی موجبه به زموږ مظلوم وطنوال دبی مفهومه جنګ جګړو قربانیان شول چابه خپل کور له لاسه ورکړ اوچا به خپل ځان ، او ترهغی به دغه جګړی روانی وی ترڅو چی به دشاهانو ارمان پوره شو ، بیا به همدغه شاهان دسولی لپاره راوخوځیدل اوجګړی به دځه وخت لپاره کراری شوی او...

لنډه داچی دننګرهار عامه وضعه داسی ناوړه وه چی هیڅوك پری خوښ نه وه ، هلته هرځه دشاهانو وه، هرځه دهغوی لپاره کیدل، هرځه دهغوی په خدمت کی وه ، هرځه په هغوی پوری منحصر وه ، دهر عمل دښه والی اوبدوالی معیار دهغوی خوښه وه ، هرځه دهغوی له غوښتنو قربانی وه ، او دهر ځه ویلو ، کولو او... حق دهغوی وه.

همدا نادودی ددی باعث شوی چی دننګرهار ولس نوره خپله حوصله له لاسه ورکړي، اوددواسی ځه په لټون کی شی چی دهغوی دی بدمرغیو ته خاتمه ورکړي.

دطالبانو اسلامي غورځنګ چی په هیواد کی داسلامي نظامی دقیام ، دهیواد دځمکنی بشپړتیا، په هیواد کی دسراري امن راوستلو ، او زموږ دمظلوم ولس دسوکالی او نیکمرغی لپاره راپاځیدلی ، ددی ښه جوګه وه چی دننګرهار اویاد هیواد دمشرقي ولایتونو دولس غوښتنی پوره کړی اودهغوی میاوی امیدونه راژوندی کړي.

نو همدا علت دی چی دننګرهار خلکو داسلامي تحریك له مشرتابه غوښتنه وکړه چی ددوی دستونزو دحل لپاره عملی قدم پورته کړی او د دوی ګړاونو ته خاتمه ورکړي ، چی داسلامي تحریك زړه سواندی او دردمن قیادت هم له هغوی ځخه دسولی اوامن په لارکی خپلی مرستی ونه سپمولی ،بلکی ژمنه ئی وکړه چی داسلامي تحریك بچیان به دخپلو سرونو په بیه دننګرهار د خلکو په زړه پوری مرستی کوي.

په هر حال ، ننګرهار اومشرقي ولایتونو ته دطالبانو داسلامي تحریك راتګ دوخت یو اهم ضرورت وه او موږ په خپل وار داسلامي تحریك دمشرتابه او دننګرهار دمؤمن ولس، دواړو ستاینه اوقدرداني کوو اودلوی خدای ځخه غواړو چی داکار به په هیواد کی دیوی دواښداری سولی اواسلامي نظام دقیام لپاره ښه اوپه زړه پوری ثابت شی ارزښونو دوطن تاندری او نادودی به پایښه ورسوي.

مرتب حافظ عبدالحلیم زرمتي

دحضرت مولانا حافظ شوکت علي صاحب اخباري

دطالبانو داسلامي تحریك په مقابله کښې درباني اوحکمتیار اتحاد مذموم دي

حکمتیار او رباني نه غواړي چې په افغانستان کې یو مضبوط اسلامي حکومت قایم شي. دافغانستان د ولس دا خواش به هله پوره شوی وي، دشهیدانو د پاکو وینو احترام به هله پرځای شوی وي، دیتیمانو اوکونډو په حال به رحم هله شوي وي.

دیتیمانو په سرونه د ترحم او کرم لاس هله ایښودی شوی وی، داسلام په تنګ د راغلیو مهاجرینو د زړه ارمان به هله پوره شوی وي.

چی دروسانو درندګانو کمونستانو ظالمانو دماتی خوړلو سره سم دستی دافغانستان په ځمکه چی پکښی دلکونو شهیدانو دپاکو وینو تخم کرل شوي و،ددی په خاطر چی هلته به اسلام اوقرآن حکومت وکړي درسول کریم «ص» مبارك احادیث به حکومت وکړی دافغانستان ځوړول شوی ، خلك د ارام ساه واخلی او دخپلو زخمونو پټی وتړي.

لیکن افسوس افسوس چی دقدرت لیوتیانو تش په نامه مشرانو دغه قیمتی صحتی له لاسه ورکړی اودااقتدار اوکرچی لپاره ئی په جنګ پیل وکړ او په همدی وجه ئی پخپل ګنلی عزت داؤ ولګولو اودلوی خدای مجرمان ثابت شول.

دهوس اقتدار په وجه د رباني او دهغه قوماندان مسعود اوحکمتیار په مابین کی تقریباً دری کاله مسلسل دافغانستان په هغو مظلومو مسلمانو بمونه اومرمی ووروولی شوی د کومو خلکو چی د روسانو دتیري په وجه هغه زاړه زخمونه لانه وو پیوند شوي. او دکومو کونډو ، یتیمانو چی لاهغه زړی اوښکی نه وی وچی شوی ،په داسی حال کی چی دخلکو ځان اومال محفوظ نه و بلکی د بی ګناه اولس له عزت سره لوبی کیدی دطالبانو اسلامي تحریك دافغانستان د دردیدلی ملت لپاره دخوشحالی ،امن

اوسلامتی او دمکمل اسلامي حکومت پیغام راوړلو اودا سنت الهي دی چی کله دانسانانو اعمال له حدنه زیات خراب شی نو دهغوی د اصلاح لپاره خپل بندګان منتخب کوي. دطالبانو دتحریك په وجه دافغانستان په ۱۵ ولایتونو کښی مکمل اسلامي نظام جاري شو دعامو خلکو مال عزت اوناموس محفوظ شو. پکار داوه چی رباني اوحکمتیار ، سیاف ددی وخت نه په استفادی سره داسلامی نظام په اجراء طالبانو د تحریك سره همکاري کړی وای لیکن ددی پرخلاف دوی ددین دپاکو طالبانو خلاف مقابله کښی سره یو شول. دیادونی وړ خبره ده چی دا ظالمان د روس مقابله کښی یو نشول، د تعجب په مقابله کښی یو نشول، اوس دطالبانو دمقدس تحریك خلاف یو شول اوپه جنګ ئی پیل وکړ.

بل طرف ته نصرت خداوندی دطالبانو سره مل شو چی په نتیجه کښی ئی داتلافی اداری سخت بریدونه له غوځی ماتی سره مخامخ شول او ددوی مخالفین ئی خوار او ذلیل کړل.

خو ددینه دامعلومه شوه چی رباني حکمتیار سیاف په افغانستان کښی داسلامي نظام په حق کښی مخلص نه دي بلکی دوی داسلام دمنصفانه نظام په لاره کښی خنډونه اچوي .

خو هغه ورځ لری نده چی انشاء الله په ټول افغانستان کښی به دطالبانو په لاس یو مضبوط اسلامي حکومت قایم شی اوهمدا تحریك به لکه دتحریك غزنوی پشان ټولو اطرافو ته خورشي.

کله په زرګونو تندرونه راپریوځی اوبه لکونو توپانونه راشی خو هغه ګلونه به سموریږی چی کوم د سموریدو وړ دی له اکوري نه حافظ عبدالحلیم پکتیاوال دشریعت اونیزی خبریال .

بیائید از خائین بریده به صادقین وصل وبپیوندیم

کشور افغان کشور حادثات ، واقعات ورویداد های بزرگ تاریخی بوده این کشور همیش به ابتلا های بزرگ وخطیری از تاریخ مواجه شده وتوانسته که به رشادت ،صبر واستقامت ازان ابتلاء ها وازمایشها پیروز وکامیاب بدر آید وصفحه، زرین وحماسي از خود در تاریخ جامعه بشری به افزاید، این مرز وبوم تاریخی روی موقعیت خدا داد استراتیژیکی وجغرافیایي خود همیش مطمع نظر اجانب واستعماریون خارجی قرار گرفته وهریك به توبه خود اشتهای عظم آنرا بسر پرورانیده ولشکر کشیهای برآن نموده ودر آتش این جنون خود هزار ها تن از زن ومرد ، طفل وپیر این خط باستانی را به خاك وخون کشیده، آبادیها رابه ویراني تبدیل کرده اند و آنچه از وحشت وبربریت در اختیار داشتند برافراد این مرز وبوم دریغ نداشته است . از جریان تاریخ چنین معلوم میگردد هرگاهیکه اراده الهی به اضمحلال وپایان امپراطوریهاي استعمارگر ، ظالم ومتجاوز کره خاکي شده «خداوجل جلاله» نجات مستضعفین را ازآبادی آن جبابره وطواغیت اراده فرموده است آنها را باملت افغان آویخته ومقابل گردانیده است ومقابل شدن وآویختن اوشان باملت افغان پایان کار وبار آنها گردیده است.

سکندر ها ، چنگیزها ، انگریزها وروسها شاخ کبر وغرور شان در همین سرزمین مرد آفرین شکسته شد وجوامع بشری از شروآزار شان نجات یافت ودامنه پرلوث وشر استعماری واستثماری فکری ، سیاسی ،اقتصادی ونظامی شان چیده شد. خیروبرکت ،فضل وکرم این مرزوبوم پیش ازآنکه به خودش برسد به دیگران رسیده وقبل ازآنکه لازمی باشد متعددی بوده ، همچون شمع از سوختن وگداختن خود به دیگران نور وروشني ارزاني داشته است.

در این دودهه اخیر شاهد قهرمانیهای تاریخی ، ایثار وفداکاری بیدریغ زن ومرد مجاهد این کشور ازادگان مقابل تجاوز بزرگترین ابرقدرت مادی وکفری جهان (اتحاد شوروي) بودیم. شوروی که روی محاسبات مادی ونظامی جهاني شکست ناپذیر پنداشته میشد اما بنصرت خداوندی «جل جلاله» وبه همت والاي ملت مجاهد افغان طوری شکستانده شد که دیگر التیام وپشره ئی را نپذیرفت وبا شکست جبران ناپزیرش تیوری ، فکر ونظریه الحادی کمونیزم همه ضرورت ، حشمت وارزش علمی، تاریخی ،سیاسی، اقتصادی ومکتبی خود را از دست داد وبه زباله دان تاریخ محکومانه حواله گردید وحصار نظامی استعماری « وارسا » از هم شکست ، دها کشور ها وملت ها ازبند ومحکومیت آزاد شدند، بعداز گذشت چند دهه بي محکومیت به مشام ملتها ، نسیم آزادی بوی حریت ونجات را آورد جهان بشریت که از خطر وتهدید کمونیزم وشوری جنایت کار خواب آرام نداشتند، احساس آرامی وفرحت کردند وهمه ایماناً ووجداناً به مرز وبوم افغان وملت شهید پرور آن به چشم تحسین وآفرین نگریستند وبه زبان حال وقال به ملت افغان « محسن ومنجي» خطاب کردند. جامعه بشری وهر یك از کافر ومسلمان جهان در سدد شدند که به پاس احترام وتکریم این منجی ومحسن جامعه بشری بقدر وسع وتوان از انرژی های مادی ومعنوی ، بشری وانساني خود در راه اعمار مجدد آن دست پیشی وکمك نمایند

تاحق شناسی کرده وسپاس را به جای آورده باشند . اما چنین نشد! بازهم همچون گذشته ها کشور افغان شمع برای دیگران شد سوحت وگداخت به دیگران راه نشان داد ، عشق آموخت، سربازی آموخت، ضرورت ومذیت آزادي واستقلال را آموخت وآنها را به نعمت والای استقلال وازادی رساند ، در سراسر گیتی نهضتها وقیامهای حق خواهي وداد طلبی را روح تازه وخروشان مقاومت آموخت همه به استادی اش اعتراف وافتخار کردند. اما بلی اما! خودش به آن طوریکه لازم بودنرسید قربان وفدای خود خواهي وهوسهای شیطاني وطاغوتی آنعده بزرگ شده گان اجنبی گردید که به تار وزنجیر فکری وسیاسی دیگران غل وزنجیر زده شده بودند وبه مهارت وزیرکی فوق العاده ئی ریشته رهبری ورهنمائی جهاد وانقلاب را بدست اوشان داده بودند، پیش از آنکه در فکر حاکمیت وسیادت دین خداوجل جلاله، وانقلاب اسلامی شوند وقبل ازآنکه به منافع علیای ملی و اراده وخواست ملت توجه نمایند ودستی شفقت برایتام بکشند ورسم احترام به شهداء انقلاب به جای آرند ودر فکر نوازش وتکریم بازماندگان عزیز وواجب الاحترام شهداء، جهاد بزرگ اسلامی شوند و درپی جستجوی زنده ومرده ئی رهبران وپیشتازان نهضت ومبارزه ئی اسلامی کشور برآیند ومزارهای پرافتخار اوشانرا برای زایرین امت اسلامی نشاندهی کنند وشمعی برمزار اوشان روشن سازند ودر فکر اعمار مجدد خرابیهای سیستم سیاسی ،اداری تعلیمی ،فرهنگی ، اقتصادی ، زراعتي و ... کشور شوند، به فکر تحکیم نهاد های شخصی ، گروهی ،قومی ، لساني وفکری خود که هیچ کدام آن اصالت وحقانیت دینی وملی نداشت ودیکته وتحمیلی بود از خارجیها، در این مسیر جهنمی طوری در لجنزا رقابتها وعصبیتهای گوناگونی گیر آمدند که به هر کافر ومسلماني به هربیگانه وآشنائي دست دراز کردند وامید های بستند وهمه روابط واساسات مبارزوی خود را زیر پای گذاشتند وباگذشت هر روزی از اسلام وارزشهای جهاد وانقلاب اسلامي فاصله شان بیشتر وعمیق تر میگردید وبه قهر وغیظ شان علیه ملت مسلمان ومجاهد افغان افزوده میگردید وتاجایکه دست شان رسید ملت را طوری به آتش قهر ، غیظ وجنون خویش مواجه گردانیدند وسوزانیدند که عزت وناموس شخصی به آنها نماندند. سرمایه های شخصي وملی را یکسره تاراج کردند، افتخارات وارزشهای ملی وتاریخی را به نابودی کشیدند حیثیتهای ملی وبین المللی کشور را زیرپا کردند ، تاریخ آنعده از سرداران وزمامداران کشور را تکرار کردند که به زور شمشیر ملت به اریکه قدرت رسانده میشدند وهرگاه رشته زعامت حکومتي را بدست میاوردند از ملت میبریدند وبه دشمن توصل میجستند وبه آن امید میبستند وبه رخ ملت به خصوص مجاهدین وکسانیکه ملت راعلیه استعمار رهبری کرده بودند شمشیر میکشیدند. که این وقایع در جنگهای آزادی علیه استعمار انگریزی به خصوص بعداز فتح میوند به تکرار مشاهده گردیده است وبه این گفته مشهور که « افغانها اکثراً فاقد استعداد لیدرشیپی سیاسي میباشند » متأسفانه صحه گذاشتند همه افتخار عظیم وتاریخی را که ملت مجاهد به قیمت یك ونیم ملیون شهید وبه همان اندازه معلول

هوتکي

